روادارى
RAWADARI

# د بشري حقونو د سرغړونو د قربانیانو لپاره د عدالت لپاره لارې

می ۲۰۲۴




Photo (C) Wakil Kohsar/AP RFE/RL’s Radio Azadi

رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قربانین محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د رسغړونې پیښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولی رسه خپروي.

# د مطالبو لړلیک


**نړیوالې جنايي محکمې** ٢
**نړیواله جنايي محکمه ICC** ٢
ICC او افغانستان ٣
ICC او قربانیانو ته غرامت/د خسارې جبران ٣
**عدالت نړیواله محکمه (ICJ)** ٤
**نړیوال قضاوت** ٥
**په نړیوالو او ملي محکمو کې د شرکتونو یا د شرکتونو د چارواکو جرمي تعقیب** ٦
**د نورو هیوادونو په کورنیو محکمو کې مدني قضیې** ٧
**جنسيتي اپارتاید** ٨

**غیر قضایي میکانیزمونه / قرباني محوره پروسې** ٩
**د خلکو دایمي محکمه** ٩
په ویتنام، ١٩٦٦-٦٧ کې د رسل محکمه ٩
د ښځو د بشري حقونو اړوند نړیواله محکمه، ١٩٩٣ ١٠
د جاپان د پوځ اړوند د جنسي غلامۍ په اړه د ښځو نړیواله محکمه، ٢٠٠٠ ١٠
د ایران د خلکو محکمه، ٢٠١٠-٣ ١٠
د اویغور محکمه، ٢٠٢٠-٢٠٢١ ١٠
د ابان محکمه، ٢٠٢١-٢٢ ١٠
**یاد ساتل** ١١
د روسیې په پرم ٣٦ کې د ګلګ موزیم ١١
د شپږمې ولسوالۍ موزیم، کیپ ټاون، سویلي افریقا ١١
د کینیا په نایروبي کې د نیایو کور ١١
کومارکا بالیډ، ډیلي، تیمور-لیست ١١
په بنګله دیش کې د آزادۍ د جګړې موزیم ١١
د افغانستان د یاد کور ١٢
**د ملګرو ملتونو میکانیزمونه** ١٢
په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی ١٢
**د بندیزونو رامنځته کول او غرامتونه/جبرانونه امکان** ١٣

**پایله: د افغان مدني ټولنې لپاره ملاحظې** ١٤
**قرباني محوره عدالت** ١٤
**خپلواکي /د شخړو حساسیت** ١٤
**خوندیتوب او امنیت** ١٤
**سرچینې** ١٤
**وخت** ١٥

د لسیزو جګړې او شخړې په پایله کې د جنګي جرمونو، د بشریت ضد جرمونو او په افغانستان کې په بالقوه توګه د نسل وژنې له امله بې شمېره خلک قربانیان شوي دي. ډیری خلک هیڅکله عدالت ته نه دي رسیدلي. له عدالت – حساب ورکولو، جبران/غرامت او پخلاینې – پرته انفرادي کړاو دوام لري، او د هیواد د جګړې او تاوتریخوالي څرخ به بې له شکه چې دوام ومومي.
له همدې امله، لکه څنګه چې په افغانستان کې دننه معافیت او جدي سرغړونې دوام لري، دا خورا مهمه ده چې عدالت ته د رسېدو لپاره احتمالي لارې وپیژنو.

دا مهال کورنۍ لارې بندې دي، خو یو شمیر نړیوالې لارې شته. دا لنډ لارښود د افغانانو لپاره د حساب ورکونې معتبر، نړیوال قضایي او غیر قضایي میکانیزمونه په ګوته کوي، او د فعالانو او د مدني ټولنې سازمانونو لپاره د ماخذ یا حوالې په توګه کارول کیږي.
د نړیوال عدالت لپاره اوسنۍ لارې له نړیوالې جګړې وروسته راڅرګندې شوې، څکه چې نړیوالې ټولنې د بشریت پر وړاندې د نه تصور کیدونکو جرمونو څخه د خلاصون یا جبران هڅه وکړه. دولتونو په ګډه د قوانینو رامنځته کولو لپاره کار وکړ چې د داسې جنایتونو د بیا پېښېدو مخه ونیسي او د نړیوالې جنایي محکمې په ګډون د نړیوالو جرمونو د مخنیوي یا محاکمې لپاره اداري رامنځته کړي. ډېری دې قوانینو نړیوال دودیز قانون یا قانوني نورمونو ته انعکاس ورکړ، چې د هغو ډېر شمیر هیوادونو لپاره اهمیت لري چې په رامنځته کولو کې یې ښکیل ؤ.

دا قوانین او میکانیزمونه بشپړ نه دي او د تکامل په حال کې دي. خو په افغانستان کې دننه او د ملي میکانیزمونو له لارې د عدالت د ټینګښت په پرتله، ممکن دا میکانیزمونه د عدالت لپاره د افغانانو ترټولو مناسب انتخاب وي.
هره لاره خپله پیاوړتیا او کمزوري لري، او په مثالي توګه په بشپړوونکې بڼه وکارول کیږي، څو د قربانیانو او حساب ورکونې په برخه کې د اغېزو لپاره ګټور تمام شي.

# نړيوالې جنايي محکمې

## ۱ - نړیواله جنايي محکمه ICC

نړیواله جنايي محکمه (ICC) څېړنې کوي، او هڅه کوي چې په جدي جرمونو تورن اشخاص د نړیوالې ټولنې له اندیښنې سره سم تعقیب او فردي تورونه يې وڅېړي: لکه نسل وژنه، جنګي جرمونه، د بشريت ضد جرمونه او د يرغل يا تيري جرم. د نړيوال ترون پر بنسټ دا محکمه د هالنډ په هاګ کې مرکزي دفتر لري، او له بېلابېلو هيوادونو څخه قاضيان، او همدارنګه له ټولې نړۍ څخه څارنوالان او حقوق پوهان لري.

له شته نټګونو څخه یوه چې ICC اداره ورسره مخامخ ده، دا ده چې، درې لوی ځواکونه، چين، روسیه او متحده ايالات ورسره يوځای شوي نه دي، او د محکمې صلاحيت (او ځينې وختونه) مشروعيت نه مني. په ځانګړې توګه، دوی پر هغو هيوادونو د دې محکمې واک ردوي چې د ICC غړي نه دي، (ICC د غړي هيواد په خاوره کې د ترسره شويو جرمونو د څېړنې واک لري، حتی که مرتکب د هغه هيواد تبعه وي چې د ICC غړیتوب و نه لري).

د محکمې موخه دا ده چې هغو اشخاصو سره حساب وکړي چې د دې جرمونو ترټولو مسئول کسان دي، او په دې ډول محکمه د دې جرمونو د بيا پيښيدو په مخنيوي کې مرسته کوي. د ICC روم قانون د نړيوال جنايي قانون ساحه پراخه کړې ده، چې د بيلګې په توګه، د جګړې په جريان کې د ترسره شوي جنسي تاوتريخوالي څېړل رانغاړي.

ICC د وروستي حل محکمه ده، چې د ملي محکمو بديل نه، بلکې بشپړوونکې ده. دا محکمه يوازې هغه وخت لاس په کار کيږي چې يو هيواد نه غواړي يا نشي کولی اړوند نړيوال جرمونه تعقيب کړي. د محکمې قضاوت کيدای شي د ۱۹۹۸ کال د روم قانون؛ د دې محکمې په بنسټ ايښودونکي سند کې په ګوته شويو مختلفو ميکانيزمونو لخوا ترسره شي.

محکمه په ۲۰۰۲ کال کې تاسيس شوې ده، په دې معنا چې يوازې د ۲۰۰۲ کال د جولای له لومړۍ نېټې څخه د ترسره شويو جرمونو په اړه قضاوت او اقدام کوي. په پيل کې دې محکمې ۱۲۳ غړي هيوادونه درلودل چې د روم قانون يې تصويب کړ. افغانستان په۲۰۰۲ کې د دې محکمې غړی هيواد شو.

له جوړيدو راهيسې:

- د محکمې پر وړاندې ۳۱ قضيې پرانستل شوي دي (ځينې قضيې له يو څخه زيات تورن کسان لري)
- د ICC قاضيانو ۴۰ د نيولو حکمونه صادر کړي دي.
- ۲۱ کسان نيول شوي او محکمې ته وړاندې شوي دي.
- ۱۵ شکمن کسان لا آزاد پاتې دي.
- د اوو تنو دوسيې د هغوی د مړينې له امله له منځه تللې دي.
- قاضيانو ۱۰ محکوميتونه او ۴ برائتونه صادر کړي دي[1]

1 د ۲۰۲۴ کال تر جنورۍ پورې. تر دا مهاله معلوماتو لپاره دا لينک وګورئ: https://www.icc-cpi.int/about/the-court

## ICC او افغانستان

د ۲۰۲۲ په اکتوبر کې، د ICC قاضیانو اعلان وکړ چې په افغانستان کې د بشریت ضد جرمونو او جنګي جرمونو په اړه څېړنې ممکن بیا پیل کړي. دا څېړنې د پخواني افغان حکومت لخوا د ځنډولو له غوښتنې وروسته ودرول شوې، چې تر دې وړاندې هم څو ځل ځنډ پکې راغلی و.

اصلي څېړنه د ۲۰۰۳ کال له مې میاشتې راهیسې په هیواد کې د ترسره شویو جدي جرمونو په اړه وه، هغه مهال چې افغانستان له ICC سره یوځای شوی دی. په دې مهال کې به له ۲۰۰۳ کال راهیسې په افغان وسله واله جګړه کې ترسره شوي نړیوال جرمونه شامل وي. په هرصورت، د څارنوال اوسني تحقیقات به د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر په میاشت کې د طالبانو او داعش یا د خراسان اسلامي دولت (ISKP) لخوا په جرمونو تمرکز وکړي، ځکه چې د پخواني افغان حکومت او نړیوالو ځواکونو لخوا ترسره شوي جرمونه له «لومړیتوبه» لویدلي دي، په دې دلیل چې د طالبانو او ISKP یا داعش جرمونه د دوام ماهیت لري، او همدارنګه د محدودو سرچینو له امله. [2]

محکمه ممکن په احتمالي توګه د جنسي تعذیب چوکاټ وکاروي، چې وکولای شي طالبان د ښځو حقونو څخه د خپلو اوسنیو پراخو او سیستماتیکو سرغړونو لپاره ځواب ویوونکي کړي.

### ICC او قربانیانو ته غرامت/د خسارې جبران

د یوې محاکمې په پای کې، که مرتکبین ګناهګار وګڼل شي، پر دوی ممکن د دوی د جنایتونو قربانیانو ته د غرامتونو ورکولو حکم وشي. محکمه ممکن د دا ډول غرامتونو امر ورکړي چې د قربانیانو لپاره د باور صندوق له لارې تادیه شي.

په دې برخه کې قانوني اساس د عمومي نړیوال قوانینو په اصولو او همدارنګه د غرامتونو په اړه د ۲۰۰۵ د ملګرو ملتونو بنسټي اصولو او د ۲۰۰۷ نایروبي اعلامیه کې موندل کیږي.

په هرصورت، په داسې حال کې چې د محکمې لخوا د غرامتونو اقداماتو هر محکومیت تعقیب کړی، خو د قضیو د کموالي له امله جبران یا غرامت په ندرت سره چمتو شوی. د محکمې په تاریخ کې یوازې څلور ځله اړوندې قضیې پېښې شوې دي (توضیحات دلته موندل کیدای شي: https://www.icc-cpi.int/about/victims).

د محکمې له اقدام ورهاخوا، غرامت کیدای شي د حقیقت موندنې د کمیسیون یا د غرامتونو د پروګرام له خوا وړاندیز شي؛ په هرصورت، ننګونې لکه د تادیاتو د تمویل لپاره کافي سرچینې پیژندل، یا د خسارې د جبران په ورته تادیاتو باندې خپلسري محدودیتونه تل موجود دي. په ځینو مواردو کې، د سمبولیکو یا ډله ایزو غرامتونو لپاره وړاندیزونه ممکن یو ډیر د باور وړ چلند وي.

2 https://www.icc-cpi.int/news/statement-prosecutor-international-criminal-court-karim-khan-qc-following-application
د مدني آزادۍ د امریکایي اتحادیې په ګډون، د څارنوال پریکړه د مدني ټولنې د یو شمیر سازمانونو لخوا نقد شوې وه: https://www.aclu.org/press-releases/aclu-statement-international-criminal-court-prosecutors-decision-deprioritize

### د ICC په اړه اضافي لوستنه

بين المللي جنايي محکمه دلته په انګليسي، دري او پښتو معلومات وړاندې کوي: https://www.icc-cpi.int/afghanistan

د ICC له خوا د اخستل شويو اقداماتو او د قربانيانو معلوماتو لپاره لاندې لينک وګورئ:
https://www.icc-cpi.int/victims/situation-islamic-republic-afghanistan

په افغانستان کې د څېړنو د بيا پيلولو لپاره د ۲۰۲۱ کال په سپتامبر کې د ICC څارنوال د رپوټ لپاره، وګورئ:
PDF.۰۸۳۱۷_https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/CourtRecords/CR۲۰۲۱

افغان شنونکی احسان قانع د افغانستان د تحليلګرانو شبکې لپاره محکمه له نږدې تعقيبوي. د هغه د ليکنو لپاره لاندې لينک ته ورشئ: https://www.afghanistan-analysts.org/en/pubauthor/ehsan-qaane/

## ۲ - د عدالت نړيواله محکمه (ICJ)

د عدالت نړيواله محکمه (ICJ)، چې د «بين المللي محکمې» په نوم هم يادېږي، د ملګرو ملتونو قضايي اداره ده، چې د ملګرو ملتونو د غړو هيوادونو تر منځ قانوني شخړې هواروي. دا محکمه د ملګرو ملتونو عمومي غونډې او د ملګرو ملتونو ادارو ته قانوني لارښود هم وړاندې کوي. ICJ، چې په ۱۹۴٦ کال کې رامنځته شوې اداره ده، د نړيوالې جنايي محکمې (ICC) څخه توپير لري، چې دا دواړه د مختلفو واکونو او صالحيتونو په درلودلو سره تکميلي ادارې دي.

**ICJ د دولتونو تر منځ شخړې اداره کوي، په داسې حال کې چې ICC افراد تعقيبوي.**

په زياتيدونکي ډول، ICJ د بشر حقونو د پراخو سرغړونو د مخنيوي لپاره يو پليټ فارم ګرځيدلی. دا ځلند معمولاً يو يا څو غړي دولتونه دخيلوي، چې يو هيواد د بشر حقونو له نړيوال تړون څخه د سرغړونې په تور تورنوي.

د بېلګې په توګه، ګامبيا د روهينګيا په اړه د نسل وژنې د مخنيوي کنوانسيون څخه د سرغړونو اړوند د ميانمار پر وړاندې قضيه وړاندې کړې. اوکراين د کريميا د بريد له امله د روسيې پر وړاندې دوه قضيې ثبت کړې دي، يوه د نژادي تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسيون د نقض اړوند، او بله قضيه د روسيې د ادعا په هکله چې وايي اوکراين د نسل وژنې کنوانسيون نقضوي او نسل وژنه کوي. همدارنګه، په وروستيو کې، سويلي افريقا د نسل وژنې د مخنيوي کنوانسيون څخه د سرغړونو اړوند د اسراييلو پر ضد قضيه ثبت کړې ده.

ICJ د دولتونو له طرفه د نه تعقيبولو د ډاډمنولو په وړتيا کې محدوديتونه لري، په داسې حال کې چې قضاوتونه صادروي، خو د پلي کولو ځواک نلري. په هرصورت، د قضاوتونو سربيره، محکمه ممکن «موقتي اقدامات» صادر کړي، او له چارواکو غوښتنه وکړي چې په سمدستي توګه خپلې پاليسۍ او عملونه بدل کړي. د دولتونه له طرفه نه تعقيبول د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته وړاندِ کيدای شي.

په ټوله کې، محکمه د پام وړ سیاسي او قضایي واک لري، او واک یې په مکرر ډول د نورو محکمو لخوا ښودل شوی.[٣]

اوس مهال، د افغان مدني ټولنې لخوا د یو دولت په ګوته کولو او متحرک کولو لپاره خوځښت رامنځته شوی، چې د افغانستان دولت پر وړاندې ICJ ته یوه قضیه وړاندې کړي. دا قضیه به د ښځو او نجونو پر وړاندې د چارواکو لخوا ترسره شوې جدي سرغړونې، د ښځو د سیاسي حقونو کنوانسیون او د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) په تړاو قضیې وڅیړي. فعالان او سازمانونه کولی شي په افغانستان کې د ښځو د حقونو څخه د سرغړونو د اسنادو له لارې د دې هڅو ملاتړ وکړي، او د فشار راوړلو په موخه د قضیې وړاندې کولو لپاره  مدافعې ملاتړ چمتو کړي. هدف دا دی چې د وضعیت په اړه نړیواله پاملرنه بیا تمرکز وکړي او بالفعل (حاکم) چارواکي د نړیوال قانون له مخې مسؤل وګرځوي، د دوی د مشروعیت په اړه اضافي شک رامنځته کړي، او د میرمنو د حقونو بیرته پر ځای کولو کې د هر ډول پرمختګ په نشتوالي کې، د عادي کېدو او رسمیت پېژندنې په برخه کې د دوی د هڅو خنډ وګرځي.[٤]

### د ICJ په اړه اضافي لوستنه

د ICJ په اړه اضافي معلومات په دې لینک کې موندل کیدای شي: https://icj-cij.org/home

د ICJ لخوا د قضاوتونو، مشورتي نظرونو او احکامو لپاره، UN - iLibrary وګورئ: https://www.un-ilibrary.org/content/series/٢٤١٤٠٧٣٢

د CEDAW د متن لپاره دا لینک وګورئ: https://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/text/econvention.htm

## ٣ - نړیوال قضاوت

نړیوال قضاوت (UJ) د دې مفکورې پر اساس دی، چې ځینې جرمونه لکه نسل وژنه، د بشریت ضد جرمونه، جنګي جرمونه، او شکنجه بې له شکه چې د نړیوالې ټولنې پر اساسي امنیت او ګټو اغیزه کوي.

د نړیوال قضاوت UJ غوښتنلیک په ځانګړي ډول د نړیوالو جرمونو لپاره ګټور دی، په دې کې د بشر حقونو، بشردوستانه قانون، یا نړیوال دودیز قانون څخه ځینې سرغړونې شاملې دي، چې په تیرو وختونو کې یا د هغو اړوند ترسره شوې دي، چې نړیوال یا په هغه هیواد  کې دننه چیرې چې جرمونه ترسره شوي دي بل د قضاوت وړ مقام یې نه درلود، یا مقاماتو د اقداماتو لپاره لیوالتیا نه درلوده.

مخ په زیاتیدونکي شمېر هیوادونه د UJ څخه کار اخلي چېځ تر ټولو جدي جرمونه تعقیب کړي، پرته له دې چې د ترسره کېدو ځای، د مرتکب تابعیت، یا د قرباني تابعیت ته پام وکړي. نن ورځ، ډېری هیوادونه د خپل داخلي قانونو په چوکاټ کې د UJ لاندې له خورا جدي نړیوالو جرمونو څخه لړتړلړه تحقیق امکان برابر کړي. په تیرو درېو لسیزو کې، له ٢٠ څخه زیاتو هیوادونو د تحقیقاتو او تعقیبونو د پیلولو لپاره خپل واک کارولی دی.

3 د ICJ قانون په ١٩۴٦ کال کې د دې ادارې له تاسیس څخه وړاندې مهال ته ورګرځي، چې د دې ادارې د تاسیس سرچینه ده، او د نړیوال عدالت دایمي محکمه بیا په ١٩٢٢ کال کې تاسیس شوه. /https://www.justsecurity.org/83723/the-international-court-of-justice-a-bright-light-in-dark-times

4 نتاشا ارنپریزټر Natasha Arnpriester: "افغان میرمنې کولی شي د عدالت په نړیواله محکمه کې قضیه ولري،»واشنګټن پوسټ، د سپتمبر ١٣، ٢٠٢٣کال. /afghan-women-international-court-justice/13/09/https://www.washingtonpost.com/opinions/2023

د ملګرو ملتونو له ۱۵۰ څخه زیاتو غړو هیوادونو لږترلږه له څلورو خورا جدي نړیوالو جرمونو څخه یو یې جرم ګرځولی، چې دغه عموماً جنګي جرمونه دي.[5] په هرصورت، ډیری دغو هیوادونو قانوني شرایط تصویب کړي چې د UJ غوښتنلیک محدودوي، لکه دا چې مرتکب به په هیواد کې موجود وي، یا دا چې قربانیان به اتباع وي، یا د UJ څخه ګټه پورته کول به د دولتي چارواکو لخوا د تصویب تابع وي، او یا له یو لړ فکتورونو سره تړاو ولري، لکه دا چې تحقیقات به د هیواد ملي امنیت ته ګټه رسوي.

المان له هغو هیوادونو څخه دی چې د نړیوال قضاوت UJ لپاره خورا د انعطاف وړ قانوني چوکاټونه لري. د مثال په توګه، د ۲۰۲۱ کال په یوه قضیه کې، د آلمان محکمې د داعش یو غړی د نسل وژنې، بشریت ضد جرمونو، او د جنګي جرمونو په تور پړ وباله، سره له دې چې د جرمني تبعه یا اوسیدونکی نه و، قربانیان هم المانیان نه ؤ، او جرمونه هم د آلمان په خاوره کې نه ؤ ترسره شوي.

په هرصورت، په دې لیک کې، زموږ پوهاوی دا دی چې د آلمان د جنګي جرمونو واحد به په انفرادي مرتکبینو تمرکز وکړي، چې په آلمان کې اوسیږي یا په المان کې حضور لري.[6]

یو بل هیواد نیدرلینډ دی چې په وروستیو کلونو کې یې UJ یا نړیوال قضاوت کارولی دی. له ۲۰۰۳ راهیسې، د هالنډ یوې محکمې د افغانستان په ګډون له ۱۴ هیوادونو څخه د جنایتونو قضیې اوریدلي دي.[7] محکمې د افغانستان د کمونستي حکومت دورې (۱۹۷۸ او ۱۹۹۲) قضیه په پام کې نیولې، چې په ۱۹۸۰ لسیزه کې په زندان کې د بندیانو په اړه د جدي سرغړونې په تور د پل چرخي پخوانۍ محکمه پکې شامله وه. تر دې دمه  د ګڼ شمېر نورو افغانانو څخه په هالنډ کې د جنګي جرمونو اړوند څېړنې شوې دي، چې یوه قضیه یې په انګلستان کې ده.[8] د هغه هیواد په قانوني چوکاټ پورې اړه لري چیرې چې څارنوالي واقع ده، ممکن هلته د قربانیانو لپاره جبران یا غرامت موجود وي. په هرصورت، لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د محکمې له امر سره سم غرامتونه ډیرې ننګونې لري.
د دې قضیو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د محاکمې نړیوال بین المللي قضاوت ډیټابیس دلته وګورئ:
/https://trialinternational.org/resources/universal-jurisdiction-database

د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې د نړیوال صلاحیت لپاره د قانوني امکاناتو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د عدالت لپاره د کلوني فاونډیشن لخوا «له پولو هاخوا عدالت» ډیټابیس وپلټئ:  /https://justicebeyondborders.com

## ۴ - په نړیوالو او ملي محکمو کې د شرکتونو یا د شرکتونو د چارواکو جرمي تعقیب

یو شو ملي حقوقي سیستمونه د شرکتونو  جرمي تعقیب ته اجازه ورکوي (د بنسټونو په توګه، د اشخاصو په نښه کولو پرځای). فرانسه یوه بیلګه ده، چې د هغو فعالیتونو لپاره چې په ښکاره توګه د داعش او نورو وسله والو ډلو تمویل پکې شامل دی، په سوریه کې د بشریت پر وړاندې د جرمونو په تړاو د سمنټو د یو شرکت تعقیب روان دی.[9]

په بل ځای کې د اشخاصو په توګه د ونډه اخیستونکو شرکتونو د چارواکو پر وړاندې جنایي تعقیبونه ترسره شوي. د بیلګې په توګه، په ۲۰۲۱ کال کې په سویلي سوډان کې د لیندین انرژۍ دوه اجراییوي کارکوونکي په سویډن کې محاکمه شوي، چې په جنوبي سوډان کې د جنګي جرمونو په مرسته او هڅونه تورن ؤ.[10]

5 https://justicebeyondborders.com/page/about-the-project
6 له سرچینې سره مرکه.
7 په هاګ کې د جرمونو نړیواله خونه (دا په بشپړ ډول د جرمونو له نړیوالې محکمې څخه توپیر لري، یوه نړیواله اداره ده، چې دا هم په هاګ کې موقعیت لري)
8 د هالنډ د وروستیو قضیو په اړه د نورو جزیاتو لپاره، لاندې لینک وګورئ: /https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/afghan-war-crimes-trials-in-the-netherlands-who-are-the-suspects-and-what-have-been-the-outcomes
9 د دې رسنۍ راپور وګورئ: french-court-upholds-syria-charge-against-cement-group-lafarge/18/5/https://www.aljazeera.com/news/2022
10 د بېلګې لپاره دا بلاګ د ۲۰۲۳کال د سپتمبر د آزموینې په اړه وګورئ: https://www.justiceinfo.net/en/122058-lundin-serious-intimate-sweden-longest-trial-sets-up-for-the-long-haul.html

په داسې حال کې چې ICC د شرکتونو د قضیو څېړلو واک نه لري، خو له ICC څخه غوښتنه شوې چې د لویو شرکتونو د چارواکو قانوني مسؤلیت وڅېړي. د مثال په توګه، د حقوق بشری بنسټونوپداسې حال کې چې ICC پخپله د شرکتونو واک نه لري، د ICC څخه غوښتنه شوې چې د شرکتونو چارواکو قانوني مسؤلیت وڅېړي. د بېلګې په توګه، د بشري حقونو سازمانونو په اروپا کې د هغو نړیوالو شرکتونو د پلټنو غوښتنه کړې چې له سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو سره د وسلو په سوداګرۍ کې دخیل دي، ځکه شونې ده چې دغه وسلې په یمن کې د جنګي جرمونو لپاره کارول شوي وي. دا کیدای شي یو جنګي جرم وګڼل شي.[۱۱]

دا ممکن د افغانستان په قضیه کې امکانات ولري، چې خصوصي امنیتي او پوځي شرکتونه ځینې وختونه د بشري حقونو په جدي سرغړونو کې ښکیل ؤ.[۱۲]

# ۵ - د نورو هیوادونو په کورنیو محکمو کې مدني قضیې

پرته له دې چې زیان رامنځته شوی وي د دولت په محکمو کې د مدني/خصوصي قانوني عمل لپاره ډیرې خنډونه شته، مګر ځینې فرصتونه هم شته.

د متحده ایالاتو په محکمو کې د بشري حقونو سرغړونو لپاره د مدني مقدمې اوږد تاریخ موجود دی، چې دغه مقدمې د متحده ایالاتو د اتباعو او غیر اتباعو لخوا وړاندې شوې دي. دا په پیل کې د ۱۷۹۸ څخه د لرغوني قانون د یوې برخې د قانون جوړونې پراساس و، د بهرنیانو د جرمي ادعاګانو قانون، او همدارنګه نورې وروسته قانون جوړونې، چې په متحده ایالاتو کې د نړیوال قانون څخه د سرغړونې لپاره مدني ادعاوو ته اجازه ورکوي، چې په دې کې شاوخوا په ۲۵ قضیو کې د بشر حقونو د سرغړونو لپاره د اشخاصو پر وړاندې د څو ملیون ډالرو انعامونه ورکړل شوي. په وروستیو کلونو کې د متحده ایالاتو محکمو لپاره یو بهیر موجود دی چې د دې قانون ساحه محدوده کړي، په هرصورت، دا مهال دغه چاره د دې قانون ګټورتیا د پام وړ کموي.

مدني جنایتونه اکثرا د دولتي معافیت مختلفو خنډونو سره مخامخ دي، ځکه چې دغه مرتکبین اکثرا دولتي فعالین دي.

یوه بله نوې پدیده د بشر حقونو د سرغړونو لپاره د شرکتونو او د شرکتونو د چارواکو پروړاندې د مدني محاکمې وده وه. د وکیلانو بین المللي اتحادیې دا لنډ راپور په تیرو څو کلونو کې د شرکتونو او د شرکتونو د چارواکو پر وړاندې رامنځته شوې ځینې جنایي او مدني قضیې لیست کوي (په دې مسله کې ډیرې نوې او وروستي مواد شته).[۱۳]

دا لاره د دې کتنې له ساحې وتلې، خو ممکن د متحده ایالاتو په محکمو کې د بشر حقونو سرغړونو لپاره د اشخاصو پر وړاندې د بشر حقونو د قضیو د راوړلو او سپړنې لپاره ارزښتمن وي، چې ایا داسې بهرني شرکتونه شته چې په افغانستان کې یا له افغانستان سره په معاملاتو بوخت دي او هلته په سرغړونو کې ښکېل دي.

11 ECCHR, دسمبر ۲۰۱۹: https://www.ecchr.eu/en/case/made-in-europe-bombed-in-yemen/

12 د مثال په توګه وګورئ: میتیبیو ایکینز، Mattieu Aikins " اثر-The Bidding War- څه ډول یو ځوان قراردادي په حیرانوونکې توګه شتمن شو،» مارچ ٦مه، ۲۰۱٦، نیویارک. http://www.newyorker.com/magazine/2016/03/07/the-man-who-made-millions-off-the-afghan-war . د ""Warlord, Inc" اثر هم وګورئ. په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اکمالاتو په زنځیر کې بډې اخیستل او فساد، د اکثریت د پرېکړې راپور، John F. Tierney، د متحده ایالاتو د استازو مجلس د نظارت او حکومتي اصلاحاتو په اړه د ملي امنیت او بهرنیو چارو کمیټې رییس فرعي کمیټه، جون 2010، http://www.cbsnews.com/htdocs/pdf/HNT_Report.pdf . سارا چییس Sarah Chayes، د دولت غله: ولې فساد نړیوال امنیت ته ګواښ، نیویارک: W. W. Norton & Company, 2015. Mattieu Aikins هم وګورئ، «قرارداد کول قوماندانان: لېږد او د افغانستان د خصوصي امنیت د صنعت سیاسي اقتصاد،» اکتوبر ۲۰۲۱، د نړیوالې همکارۍ مرکز. https://www.ciaonet.org/attachments/21916/uploads .

13 https://www.ibanet.org/IBA-War-Crimes-Committee-shines-a-light-on-corporate-liability-cases#:~:text=The%20compilation%20shows%20that%20in,security%20services%2C%20chemicals%20and%20even

## ٦ - جنسيتي اپارتايد

د يادولو وړ ده چې د افغانستان او ايران د ښځو د بشري حقونو د مدافعينو او همدارنگه د نړيوالې ټولنې د حقوقي کارپوهانو له خوا د جنسيتي تبعيض د جرم پيژندلو او محاکمه کولو لپاره يو کمپاين پيل شوی دی. په داسې حال کې چې د جنسيت پر بنسټ ځورونه لا دمخه د بشريت پر وړاندې د جرم په توگه پيژندل شوی عمل دی، د طالبانو لخوا د ښځو او نجونو پر وړاندې د سيستماتيک ظلم او سلطې ناوړه او بنسټيز شوی ماهيت د جنډر اپارتايد (چې د جنسيت پر بنسټ د ځورونې بشپړونکی وي) د نوي جرم گواهي ورکوي. د نژادي تبعيض شدت به په دولتونو، ملگرو ملتونو او مالي موسسو باندې فشار راوړي چې د جنسيتي اپارتايد مخه ونيسي، وقايه يې کړي او مرتکبين يې محاکمه کړي. په هرصورت، واقعيت دا دی چې دا به کلونه وخت ونيسي چې دا ډول جرم په نړيوال قانون کې شامل شي. د جنډر اپارتايډ د پای ته رسولو کمپاين په اړه نور دلته ولولئ: https://endgenderapartheid.today

# غیر قضایي میکانیزمونه / قرباني محوره پروسې

د هنر په بڼه د قربانیانو یادول حقیقت ته د رسیدو او د قربانیانو د درناوي یوه لاره ده. د خلکو محکمې د قربانیانو د عدالت بل میکانیزم دی چې موږ به یې په دې برخه کې بحث وکړو. د خلکو محکمې د مدني ټولنې پر بنسټ خپلواک حرکتونه دي، چې د اتباعو محکمو او د ښځو محکمو په نوم هم پیژندل کیږي. دا محکمې کولی شي د نړیوال عدالت میکانیزمونو د قانوني تشو او سیاسي ناکامیو په وړاندې د معافیت مسله حل کړي، لکه څنګه چې برټرینډ رسل، چې په ۱۹٦٦ کې په ویتنام کې د متحده ایالاتو د جرمونو لپاره د رسل محکمه جوړه کړه، استدلال وکړ «د خاموشۍ جرم څخه ډډه وکړئ».[۱٤]

په وروستیو لسیزو کې د خلکو د محکمو ډیرې بېلګې شته. په داسې حال کې چې دا ډول محکمې قضایي واک یا د پلي کولو وړتیا نلري، د ډیرو ژوندي پاتې شویو، قربانیانو او شاهدانو لپاره دوی د سرګذشت او د حقایقو بیانولو، رسمیت پېژندنې، کرامت پرځای کولو، د ټکور یا التیام لپاره د ځای جوړولو او د عامه روایت رامنځته کولو لپاره پیاوړې وسیله ده. ځینې وختونه دوی د تیرو جرمونو لپاره رسمیت پیژندنه او د غرامتونو ورکړه هڅولې ده (د بیلګې په توګه، د جاپان په پوځ کې د جنسي غلامۍ اړوند د ښځو نړیواله محکمه. نور لاندې ولولئ).

په دې برخه کې د خلکو د محاکمو او نورو د یادولو، حقیقت ویلو او له هېرولو سره د هڅو ځینې نورې لنډې بېلګې وړاندې کېږي. دا برخه په افغانستان کې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي له فعالیتونو سره هم تړاو لري..

## ۱ - د خلکو دایمي محکمه

د خلکو دایمي محکمه (PPT) د Lelio او Lisli Basso Foundation تر ملاتړ لاندې فعالیت کوي، چې د دوی د خپل ځان په اړه لیکي: «د نړیوال عامه نظر دا بین المللي محکمه د دې صلاحیت لري چې د هر ډول جدي جرم په اړه حکم وکړي چې خلکو او اقلیتونو ته یې زیان اړولی وي.»[۱۵] دا محکمه په ۱۹۷۹ کال کې د Russell Tribunals لپاره د ځای ناستي په توګه راڅرګنده شوه، چې Russell Tribunals په ویتنام کې د متحده ایالاتو لخوا د جرمونو د قضاوت لپاره تنظیم شوی و (۱۹٦٦-٦۷). PPT یا د خلکو محکمه د مدني ټولنې په مشرۍ د محکمو ترمنځ یو غیر معمولي بنسټ دی، ځکه دا دایمي پلیټ فارم دی، چې په نړیواله کچه د پیژندل شویو متخصصینو له شبکې څخه جوړ دی. PPT د نړۍ په کچه له ۵۰ څخه ډیرې غونډې ترسره کړې دي، چې د جنګي جرمونو قضیې په ګوته کوي، د بشریت پر ضد جرمونه، نسل وژنه، «او همدارنګه اقتصادي، ایکولوژیکي او سیستماتیک جرمونه.″

د خلکو دایمي محکمې یا د مدني ټولنې ورته هڅې ممکن د افغان فعالانو او بشري حقونو سازمانونو لپاره یو انتخاب وي. په داسې حال کې چې د دې ډول هڅو پراخوالی خورا توپیر سره لري، دا ډیر پراخ زماني چوکاټ او / یا د مرتکبینو د پراخې لړۍ احتمال وړاندې کوي، د هغه څه ور هاخوا چې د اوسني ICC د پروسې لخوا وړاندې کیدای شي.

### په ویتنام، ۱۹٦٦-٦۷ کې د رسل محکمه

د ویتنام جګړه (۱۹۵۴-۷۵) د شمالي ویتنام د کمونیستي حکومت (د سویلي ویتنام متحدینو، ویتکانګ سره) او د سویلي ویتنام د حکومت تر منځ د متحده ایالاتو په مرسته جوړه شوې وه. د رسل محکمه اکثراً د کیڼ اړخو پوهانو، وکیلانو او فعالانو څخه جوړه شوې وه، چې د دې ارزونه وکړي چې ایا متحده ایالاتو د تیرې جرم ترسره کړی، د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې یې منع شوې وسلې کارولې دي، یا دا چې د جنګي جرمونو ترسره کولو په شمول ملکي اهداف په نښه شوي او شکنجې ترسره شوې دي.

14 ″د خاموشۍ د جرم مخه ونیسئ،“ Bertrand Russell برټرنډ رسل، ۱۹٦٦، لینک: https://www.spokesmanbooks.com/Spokesman/PDF/110Russell.pdf

15 https://permanentpeoplestribunal.org/?lang=en

## د ښځو د بشري حقونو اړوند نړیواله محکمه، ۱۹۹۳

د ویانا محکمې په نوم هم پیژندل کیږي، او د ښځو د حقونو د نادولتي موسسو د یوې ډلې لخوا د میرمنو د نړیوال مشرتابه مرکز تر ملاتړ لاندې تنظیم شوې. موخه یې دا ده چې د بشر حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د ویانا کنفرانس کې د ښځو حقونه پر ځای کړي، د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی د بشري حقونو د سرغړونې په توګه د منلو غوښتنه وکړي، او همدارنګه دولتي حساب ورکول وغواړي.[16]

## د جاپان د پوځ اړوند د جنسي غلامۍ په اړه د ښځو نړیواله محکمه، ۲۰۰۰

دې محکمې په ۱۹۳۰ او ۴۰ کلونو کې د آسیا پاسیفیک سیمه کې د جاپان د شاهي پوځ لخوا د جنسي تیري او جنسي غلامۍ څېړنه وکړه. دې محکمې د جګپوړو جاپاني چارواکو جرمي مسؤلیت او همدارنګه د جاپاني دولت د پیچلتیا ارزونه وکړه. د محکمې اغیزې پراخې وې، د جنسي غلامانو د کارونې د رسمیت پېژندنې په ګډون، (البته د کلونو انکار وروسته)، چې دا قضیه په رسمي بخښنې او د یو ملیارد ین (۸٫۳ ملیون ډالرو) په غرامت ورکولو پای ته ورسېده. د قربانیانو / ژوندي پاتې شویو لپاره، محکمې د جرمونو ترسره کېدو څو کاله وروسته د پام وړ میرمنو لپاره زمینه برابره کړه چې رامخکې شي، او د خپلو تجربو په اړه په ښکاره ډول شاهدي ووايي.[17]

## د ایران د خلکو محکمه، ۲۰۱۰-۳

د ایران د خلکو محکمه د مدني ټولنې نوښت و چې اعدامونه او تېر تم کیدل روښانه کړي. دا محکمه د الهام په توګه د خاوران د میندو په نوم یادیږي. دا یوه ټولنه ده چې ډیری د کین اړخو فعالانو استازیتوب کوي چې په ۱۹۸۰مو کلونو کې په ایران کې د مرګ په حکم اعدام شوي یا تر مرګه شکنجه شوې دي.[18] محکمې د نړیوالو قضاوت کونکو محاکمه جوړه کړه او پایله یې په ۲۰۱۳ کال کې د یو راپور خپرول ؤ.

## د اویغور محکمه، ۲۰۲۰-۲۰۲۱

دا محکمه د اویغور نړیوال کانګرس په غوښتنه تاسیس شوه چې د اویغور، قزاقستان او نورو ترک مسلمانانو د نفوس پر وړاندې د چین اړوند ادعا شوې نسل وژنې او جرمونو پلټنه وکړي، او په لندن کې په ۲۰۲۱ کې په دوو غونډو کې یې شواهد اوریدل شوي. محکمې د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر پر ۹مه نېټه خپل قضاوت وړاندې کړ او په متحده ایالاتو او اروپا کې یې رسنیز پوښښ درلود.

## د ابان محکمه، ۲۰۲۱-۲۲

د ابان محکمه د مدني ټولنې په مشرۍ د ایران د حکومت لخوا د ۲۰۱۹ په نومبر کې د لاریون کونکو پر وړاندې د ترسره شویو ظلمونو په اړه پلټنه وه، چې په پایله کې یې سلګونه مړه او زرګونه ټپیان شول. لومړنی پلان دا و چې په۲۰۲۱ کې لنډه د قضیې اوریدنه ترسره شي، د پلان په لومړي پړاو کې د ابان محکمې اوریدنه درلوده، خو د محکمې په بهیر کې د شاهدانو او ژوندي پاتې شویو کسانو د لېوالتیا او د ابان د پېښو په اړه د هغوی د غوښتنو او څرګندونو له امله، محکمې دویمه غونډه هم وکړه. په ایران کې دننه او بهر په ملیونونو خلکو د محکمې هغه عمل تعقیب کړ چې په ژوندۍ بڼه خپره شوه.

16 ″د حساب ورکولو غوښتنه: د ښځو د بشري حقونو لپاره د نړیوال کمپاین او ویانا ټریبونل،“Charlotte Bunch and Niamh Reilly چارلوټ بینچ او نیام ریلی، UNIFEM 1994. https://digitallibrary.un.org/record/208388?ln=en

17 د جاپاني پوځ د جنسي غلامۍ په اړه د ښځو نړیواله محکمه، Christine M. Chinkin کریستیین ایم چکنین، د نړیوال قانون امریکایي ژورنال، ۹۵ګڼه، نمبر ۲، اپریل ۲۰۰۱، د کیمبرج پوهنتون نشریه.

18 https://irantribunal.com /

## ۲ - یاد ساتل

یاد ساتل د قربانیانو د ټکور لپاره حیاتي وسیله او د ټولنو او ملتونو پراخه وړتیا ده چې د قربانیانو درناوی کوي، قرباني یې په رسمیت پیژني او یاد یې ساتي. لکه څنګه چې Sites of Conscience سازمان لیکي، «یاد ساتل له تیر سره د جوړجاړي شرایطو ته د رسیدو یو لازم اړخ دی او د انتقالي عدالت د هرې پروسې یوه مهمه برخه ده چې هڅه کوي تاریخي مخینه په سمه توګه تنظیم او خوندي کړي.» په کمزورو ټولنو کې دا د مدني ښکیلتیا لپاره یوه حساسه وسیله کیدای شي. کوم ځای کې چې د حساب ورکولو امکانات کم دي، یاد ساتل کولی شي د تاریخي مخینې د خوندیتوب په سمه توګه تنظیم کولو کې مرسته وکړي. یاد ساتل کولی شي د هغو کورنیو لپاره د غم څرګندولو او تسلیت وسیله هم رامنځته کړي چې عزیزان یې له لاسه ورکړي. د حقایقو د تثبیت او د ګنو روایتونو د منلو لپاره د فضا په رامنځته کولو سره، د قربانیانو یاد کولی شي د پخلاینې او حساب ورکونې د هڅو په ګډون د انتقالي عدالت د نورو پروسو د ترسره کولو لپاره د یو چاپیریال په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.. په نهایت کې، دا کولی شي د «بیا هیڅکله نه» کلتور په پراختیا کې له شخړې وروسته ترتیب او له هغې ور ها خوا مرسته وکړي.

یاد ساتل کیدای شي د یادګارونو، موزیمونو، د یاد مراسمو، ښنې، بیا دفن، او د یادولو د پروژو په بڼه وي. په دې برخو کې ډیری نړیوالې بېلګې شته، لکه:

### د روسیې په پرم ۳٦ کې د ګلګ موزیم

دا موزیم د ساتنې، د څېړنو نندارتونونو او پوهنیزو فعالیتونو په مټ د سټالین ګلګ د دورې د سیاسي جبر د یادولو لپاره کارول کیده. دا موزیم په ۲۰۱۴ کال کې په سیاسي دلایلو بدلونونه راغلل. دا نوښت اوس په مجازي بڼه موجود دی.

### د شپږمې ولسوالۍ موزیم، کیپ ټاون، سویلي افریقا

دا موزیم په ۱۹۷۰ لسیزه کې د اپارتاید حکومت لخوا په کیپ ټاون کې د خلکو یوه ډلې د جبري ویستلو یادونه کوي. د پخوانیو اوسیدونکو شخصي اثار لري، لکه  لیکونه، د ورځپاڼو قلمي اثار، هنري کارونه، او غږیز ریکارډونه.

### د کینیا په نایروبي کې د نیایو کور

دا کور د نایروبي په زړه کې د شکنجې پخوانی پټ ځای و، چې له دې شکنجو څخه ژوندیو پاتې شویو وګړو د تیرو ظلمونو د ثبوت په توګه د دې ځای د ساتلو لپاره مبارزه کړې ده.

### کومارکا بالیډ، ډیلي، تیمور-لیست

دا پخوانی زندان د کورنۍ جګړې په جریان کې د ډیرو ظلمونو ځای و، او اوس د مدني او هنري کارونو په ګډون د فرهنګ، سولې او یاد ساتلو د چارو ځای دی.

### په بنګله دیش کې د آزادۍ د جګړې موزیم

دا له استعمار څخه د خپلواکۍ د خونړۍ جګړې د یادولو لپاره یو موزیم دی، چې په دې جګړه کې درې میلیونه وګړي ووژل شول. دا موزیم هغه اثار، عکسونه او اسناد نندارې ته وړاندې کوي، چې ډیری یې د دې هیواد د اتباعو لخوا مرسته شوي دي.

### د افغانستان د یاد کور

د افغانستان د قرابانیانو د یاد ساتلو یوه بیلګه د افغانستان د یاد کور دی، چې د افغانستان د بشر حقونو او ډیموکراسۍ سازمان لخوا جوړ شوی دی. دا په مجازي بڼه یو موزیم دی چې د یوې لسیزې زیاتې مودې «میموري بکس نوښت» له خوا رامنځته شوی، چې د زرګونو قربانیانو شواهد، اسناد او اثار یې راټول کړي دي. په دې بکسونو کې شواهد، اسناد او توکي د هر قرباني سره تړاو لري. په ۲۰۱۹ کې، د افغانستان د بشري حقونو او ډیموکراسۍ سازمان (AHRDO) دا صندوق په افغانستان کې عامو خلکو ته ښکاره کړې، خو د طالبانو له واک ته د رسیدو سره، په افغانستان کې د دغو فعالیتونو دوام ناشونی شو. «د افغانستان د یاد کور» اوس یو آنلاین موزیم دی چې د قربانیانو او د هغوی د داستانونو پر بنسټ د یاد صندوق په څیر جوړ شوی دی.

## ۳ - د ملګرو ملتونو میکانیزمونه

### په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت په اړه ځانګړی راپور ورکوونکی

د ۲۰۲۱ کال په اکتوبر کې، د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا اکثریت غړو د افغانستان په اړه د حقوق بشری ځانګړي راپور ورکوونکي د رامنځته کولو لپاره یو پریکړه تصویب کړه. د ۲۰۲۲ کال د اپریل پر لومړۍ نېټه، رچرډ بینیت د ځانګړي راپور ورکوونکي په توګه وټاکل شو او دنده ور وسپارل شوه چې په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت څارنه وکړي او د پرمختګ لپاره یې سپارښتنې وړاندې کړي؛ د بشر حقونو د مکلفیتونو په پوره کولو کې مرسته وکړي چې د نړیوالو تړونونو څخه رامنځته شوي دي، کوم چې افغانستان تصویب کړي دي؛ مدني ټولنې ته مشوره او ملاتړ وړاندې کړي؛ او د نورو دندو په منځ کې د بشر حقونو د وضعیت په اړه د ټولو اړوندو شریکانو څخه د معلوماتو پلټنه، ترلاسه کول، ارزونه او عمل کول یې نورې دندې دي. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ:

https://www.ohchr.org/en/special-procedures/sr-afghanistan

د ۲۰۲۳ په جون کې، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تبعیض په اړه ځانګړي راپور ورکوونکي او کاري ډلې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه یو راپور خپور کړ چې پکې حکومت، نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو ته جدي وړاندیزونه شامل ؤ. دا راپور کولای شئ په دې لینک کې ومومئ:

situation-women-and-girls-afghanistan-report--https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc۵۳۲۱ special-rapporteur

د بشر حقونو افغان او نړیوالو مدافعینو د ملګرو ملتونو د یو میکانیزم غوښتنه کړې چې د حساب ورکولو په برخه کې لا زیاتو واکونو سره مرسته وکړي، لکه د حقیقت موندنې ماموریت یا کمیسیون، یا د پلټنې او څېړنې ادارې چې د راتلونکو جنایي محاکمو لپاره د شواهدو د راټولولو دنده ولري. د داسې غړو اوسني مثالونه د ایران او وینزویلا اړوند د واقعیتونو د موندنو دنده، د اوکراین په اړه د پلټنې کمیسیون، د عمل لپاره ټاکنه/اسرایل او سوریه او د سوریې، میانمار او عراق په اړه تحقیقاتي میکانیزمونه شامل دي.[۱۹]

له بده مرغه، تر نن نیټې پورې د غړو هیوادونو کافي سیاسي اراده نشته چې د افغانستان لپاره دا ډول میکانیزم رامنځته کړي. د ځانګړي راپور ورکوونکي اوسنۍ دنده د حساب ورکولو برخه لري، که څه هم اوس مهال د بشپړ څېړنیز مدیریت او شواهدو خوندي کولو لپاره سرچینې محدودې دي.

19 د ملګرو ملتونو د بشر حقونو شورا لخوا د ټاکل شویو ارګانونو بشپړ لیست لپاره وګورئ: «د پلټنې نړیوال کمیسیونونه، د بشر حقونو په اړه کمیسیونونه، د حقیقت موندنې ماموریتونه او نور تحقیقات،»

## ۴ - د بندیزونو رامنځته کول او غرامتونه/جبرانونه امکان

د طالبانو پر وړاندې ګڼ نړیوال بندیزونه شته، چې ځینې یې د ډیرو کلونو لپاره پر ځای دي (د شتمنۍ کنګل، د سفر بندیزونه او د وسلو بندیزونه). د اروپایي شورا لخوا د اوکراین لپاره د نړیوالې خسارې میکانیزم د رامنځته کولو، د قربانیانو د غرامت او د زیان د جبران لپاره د روسیې د شتمنیو د ضبط کولو د هڅې، او د کولمبیا د قانون په ښوونځي کې د نړیوالو ادعاګانو او غرامت/جبران د پروژې رامنځته کولو په ګډون، په اوکراین کې رواني جګړې د بندیزونو او غرامتونو په اړه په زړه پورو پرمختګونو ته وده ورکړې ده.

د ژغورونکو نړیوال فنډ یوه نسبتاً نوې نړیواله اداره ده چې موخه یې د شخړې اړوند جنسي تاوتریخوالي لپاره جبران ته وده ورکول دي. داسې ښکاري چې دوی د افغانستان اړوند رامنځته شوي پروګرامونه نه دي پیل کړي.

# پایله:د افغان مدني ټولنې لپاره ملاحظې

د پورتنیو میکانیزمونو د کارولو په اړه یو شمیر ملاحظات شتون لري چې کولی شي په افغانستان کې د مدني ټولنې او قربانیانو او ژوندي پاتې کیدو لپاره د لارې او همکارۍ په انتخاب اغیزه وکړي.

## قرباني محوره عدالت

د قرباني محوره عدالت اصول، خوندیتوب، حقونو، هوساینې او د قربانیانو او ژوندي پاتې شویو کسانو اړتیاوو او انتخابونو ته لومړیتوب ورکوي. ځینې دا انتخابونه قربانیانو یا ژوندي پاتې شویو ته اړتیا لري چې د محافظت د بېلابېلو درجو سره شاهدي ورکړي، د قربانیانو هویتونو او شهادت ته د مدافع د لاسرسي احتمال هم (په جرمي محاکمو کې) شته، (له موجودو بېلابېلو محافظتونو سره). په داسې حالتونو کې به پروسې په مثالي توګه د قربانیانو له رواني ملاتړ سره وتړل شي، چې ځینې وخت له ناڅرګندو پایلو سره د رواني ستونزې د بیا راګرځېدو خطر لري، که څه هم دا چاره اضافي سرچینو ته اړتیا لري.

## خپلواکي /د شخړو حساسیت

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، ځینې نړیوال میکانیزمونه پیاوړې ګډې اړیکې لري، یا د شخړې د ښکیلو اړخونو د نفوذ تابع دي. دا میکانیزمونه کیدای شي د پروسې پر حوزه اغیزه ولري، چې کوم مرتکبین، جرمونه او کومه زماني دوره په پام کې ونیول شي. د عدالت اړوند د ورته اندیښنو د مخنیوي یوه لاره دا ده چې په ورته وخت کې د حساب ورکونې ډیرې لارې وازمایل شي، او د قربانیانو شبکې او نور مدني بنسټونه له ورته تکمیلي هڅو څخه خبر اوسي. د عدالت او توازن دا پوښتنې همدا راز کولی شي د تاوتریخوالي په دورو اغیزه وکړي، او د شخړې اړوند د یو یا ډیرو اړخونو شکایتونه زیات کړي (تیر او اوسني). دا په دې معنا ده چې د شخړې د حساسیت کچه باید د پریکړې کولو یو فکتور وي. په هرصورت، وروستي افغان تاریخ ښودلې چې کله د «ثبات» ګټو ته د عدالت پر ګټو لومړیتوب ورکړل شي، د معافیت او تاوتریخوالي پر غځېدو اوږدمهاله اغیزه کوي.

## خوندیتوب او امنیت

پورته ټولې پروسې قربانیانو سره تر یو حده تماس او اسنادو ته اړتیا لري. د افغان مدني ټولنې د ډېرو فعالانو سره د کارمندانو او قربانیانو/عیني شاهدانو د خوندیتوب او امنیت اړوند ژورې اندیښنې شته. حتی په جلاوطنۍ کې\بهر میشتي افغانان ممکن د کورنۍ، خپلوانو یا خپلو پخوانیو همکارانو د نه خوندیتوب اړوند اندیښنه ولري.

ډیری مدني بنسټونو موندلې چې له بهر میشتو هیوادوالو سره کار کول، په افغانستان کې د کار په پرتله ډېر امنیت لري. د معلوماتو امنیت په ځانګړې توګه د مدني ټولنې د هڅو لپاره یوه دوامداره ننګونه ده، (د سرچینو او ظرفیت له مخې).

## سرچینې

ډیری دا بهیرونه په افغانستان کې دننه د سختو بشري اړتیاوو له امله د پام وړ سرچینو ته اړتیا لري او د لږ شمېر بهر مېشتو افغانانو همکارۍ ته اړتیا لري. په نورو هیوادونو کې روانو جدي شخړو او بې عدالتیو سره د مقابلې د اړتیاوو له امله، د نړیوالو میکانیزمونو لپاره د هیواد سرچینې محدودې دي. د مدني ټولنې په مشرۍ نوښتونو لپاره د تمویل سرچینې کمزورې دي، نو د یوې پروسې یا پروسو رامنځته کولو لپاره ممکن د تمویل نوی ماډل اړین وي، چې د اعتبار وړ، قرباني محوره او د وخت په تیریدو سره اغېزناک وي.

## وخت

د ډيرو خنډونو او انديښنو سربيره، د ډېرو دې لارو لپاره د بيړنۍ اړتيا احساس موجود دی. د جګړې د مخکنۍ دورې قربانيان او ژوندي پاتې شوي بيړنۍ پاملرنې ته اړتيا لري. په داسې حال کې چې مدني بنسټونو او د قربانيانو شبکو د شخړې د لومړنيو وضعيتونو د ډيری قربانيانو سره کار کړی، خو دا يواځې د کار پيل دی، او د افغانانو له خوا زغمل شوی زيان په څو شخړو پورې تړاو لري.